عبدالواسع هڅیال ۰۲/۰۳/۲۰۱۵

# د اروابناد عبدالروف بېنوا د دېرشم تلین په یاد

اروابناد عبدالروف بنېوا چي د هیواد، سیمي او نړۍ په کچه یو وتلی لیکوال، څېړونکی، مؤرخ، شاعر او یو ښه سیاستوال و له نن څخه پوره دېرش کاله وړاندي له دې فاني نړۍ سره د تل لپاره مخه ښه کړي. موږ چي د اروابناد د دېرشم تلین په یاد یو څه لیکلي غواړو له تاسو درنو لوستونکو سره شریک کړو او تاسو ته یې د لوستلو توان غواړو.

اروابناد عبدالروف بېنوا د مفتي عبدالله اخوند زوی (۱۳۳۴ه ق مړ) چي په کندهار کي یې په مفتي عبده سره شهرت درلود، او ۳۳ کاله د کندهار په ښاري محکمه کي مفتي و، نیکه یې ملا عبدالحق اخوند علیزی(۱۲۰۸ـ ۱۲۸۸ه ق) و چي په کندهار کي یې استاذ کل باله، او ور نیکه یې ملا ګلستان اخوند نومیدی او تر نیکه یې ملا ګلاب اخوند و چي غالباً د دوولسمي هجري پېړۍ په دوهمه نیمایي کي له معروف ولسوالۍ له علیزو څخه د هلمند موسی کلا ته تللی او مېشت سوی و، او هلته د موسی کلا په سرببېنه کي مړ سوی دی.

ښاغلی عبدالروف بېنوا له نن څخه درې نوي کاله وړاندي(۱۲۹۲ ه ش- ۱۳۳۲ه ق -۱۹۱۳ع) د کندهار ښار د اولي ناحیې د سید حسن د کوڅې په یوه دینداره، علمي او مخوره کورنۍ د مفتي عبدالله کره وزیږېدی.ښاغلي بېنوا له خپل پلار او نوري کورنۍ څخه مروج دیني علوم تر لاسه کړل. فاضل استاد عبدالروف بېنوا د خپل عمر دېرش کاله په رسمي چارو کي تېر کړي دي، لومړۍ درجه مطلا مېنه پال او دوهمه درجه د ستوري نښانونه ورکړه سوي دي، د افغان او هند او افغان او شوروي د ټولنو غړی و، ښاغلی بېنوا به د رسمي ماموریت په لړ کي کله مدیر، کله د پوهنتون استاد، کله ریس، کله مستشار، کله معین، کله وزیر او کله به د ولس استازی پاته کېدی، خو استاد بېنوا په دې ټولو بانواییو کي هغه د پخوا بېنوا و، د ده د بې نوایۍ مصداق یوازي دا نه و چي دی د د نیا له دومره مال او منال څخه یې هیڅ هم نه دي وړي، دا هر څه یې د ملت مشترک مال باله. کله چي ښاغلی استاد له وزارت څخه لیري سو درې میاشتي وروسته یې د کور توکي پر بازار کړه، د ژوند تر پایه یې د ځان په سم کور ارمان ونه خوت. د استاد بېنوا یو تر ټولو ښه خاصیت داو چي په هیڅ وخت کي یې د مغرورۍ حس نه کاوه، د ټولو دندو پر مهال یې له ملګرو، دوستانو او مراجعینو سره ډېر زیات صمیمیت درلودی، په ټول عمر کي یې په کړنه کي کوم توپیر ونه لیده سو او د دوستانو او ملګرو په منځ کي هغه بېنوا و.

فاضل استاد بېنوا د لیکوالۍ پخه خو څلوېښت کلنه سابقه لرله، نثر یې دواړي تحقیقي او تخلیقي برخي لري، نظم یې هم ډېر په زړه پوري دی، درد او رنګیني پکښي له ورایه سترګکونه وهي، شعر یې په خورا روانه، خوږه او پسته ژبه لیکل سوی دی، شعر یې په طبیعي ښکلا پسولل سوی دی، د استاد په شعرونو کي که له یوه پلوه د مینې او ښکلا فرښته د خیالونو په میکده کي ناسته لیدل کیږي او د لفظونو مستي یې د مینې صراحي ته خورا په مینه ورتوییږي، نو له بل پلوه یې بیا په شعرونو کي د مهجورانو او محرومانو اسوېلي او فریادونه هم اورېدل کیږي چي څوک خوب او ارام ته نه پرېږدي.

د فاضل استاد څېړنو په پښتو ژبه کي د ادبي فنونو دروازه خلاصه کړې ده، د ده تخلیق او پنځونه د وخت د غوښتونو سره سم لویه تشه ډکه کړې ده، د اروابناد ځیني شعرونه په عربي، روسي، انګریزي، چکوسلواکیایي او نورو ژبو ژباړل سوي دي، د چکوسلواکیا مشهور پښتو پوه ډاکټر برژي پیچکا(۱۹۱۰ع کال زوکړی) یې شعرونه په خپله ژبه ژباړلي دي. فاضل استاد بېنوا د خپلي څلوېښت کلني مبارزې په جریان کي لوی شمېر تحقیقي، تخلیقي او ژباړل سوي اثار زموږ د ګران هیواد ادبي کهول ته وړاندي کړي دي.

## د فاضل استاد تحقیقي او تخلیقي اثار:

۱ـ اوسني لیکوال: دا اثر په درې ټوکه کي خپور سوی دی، لومړی ټوک یې په د ۱۳۴۰ ل کال کي، دوهم ټوک یې په ۱۳۴۱ ل کال کي او دریم ټوک یې په ۱۳۴۶ ل کال کي خپور سوی دی. په دغو درو ټوکونو کي ۲۲۹ تنه د پښتو ژبې اوسني لیکوال د الفبې په تر تیب معرفي سوي دي، دا درې واړه ټوکه ټولټال ۱۵۰۹ مخونه لري او د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تالیف لومړۍ جایزه یي وړي ده، او دا درووند اثر د دوهم ځل لپاره د ښاغلي مطیع الله روهیال په زیار د علامه رشاد خپرندویه ټولني- کندهار له خوا په ۱۳۸۸ل کال کي چاپ سوی دی.
۲- د افغانستان نومیالي: دا درووند اثر چي په ځلور ټوکه کي چاپ سوی دی، لومړی او دوهم ټوک یي په ۱۳۵۳ل کال کي، دریم ټوک یي په ۱۳۵۶ل کال کي او ځلورم ټوک یي په ۱۳۶۰ل کال کي چاپ سوی دی، په دې اثر کي د افغانستان ۱۷۶۷ تنه نومیالي راپیژندل سوي دي چي وروستی تن یي ایوب خان دی، ځلور واړه ټوکه ۱۸۹۴ مخونه لري. دغه اثر د (ج) تر توري پوري چاپ سوی دی او پاتي یي د فاضل استاد پوهاند علامه رشاد په شخصي کتابون کي موجود دي.
۳- هوتکي ها: دا کتاب په پارسي ژبه لیکل سوی چي په ۱۳۳۵ل کال کي چاپ سوی، په کتاب کي د هوتکو د دورې ټول حالات په تفصیلي ډول سره څېړلي سوي دي، د کتاب ټول مخونه ۱۷۷ دي، چي پښتو ژباړه یي د محمدیونس مراد له خوا تر سره سوې ده، نوموړي کتاب د خوشحال خان خټک دوهمه جایزه وړې ده. د دې کتاب پښتو ژباړه په ۱۳۴۵ل کال کي د ښاغلي محمد یونس مراد له خوا تر سره سوې ده، دا کتاب دوهم ځل په ۱۳۸۰ل کال کي د صحاف نشراتي مؤسسي له خوا په کوټه کي هم چاپ سوی دی.
۴- میرویس نیکه: دا کتاب د پښتنو د ملي قاید میرویس نیکه د کارنامو په اړه لیکل سوی، په ۱۳۲۵ل کال کي چاپ سوی چي ټولټال ۱۱۴ مخونه لري او په ۱۳۲۴ل کال کي یي د آریانا جایزه هم وړې ده، او دوهم ځل په ۱۳۸۴ل کال کي ( د افغانستان کلتوري ودې ټولنه- جرمني) له خوا چاپ سوی.
۵- پرېشانه افکار (لومړی برخه) دا کتاب د ارواښاد د شعرونو یوه وړه ټولګه ده چي په ۱۳۳۵ل کال کي چاپ سوې ده، کتاب ۱۶۶ مخونه لري، چي ځیني شعرونه یي په روسي ژبه په ۱۹۶۲ع کي هم ژباړل سوي دي، دا کتاب دوهم وار په ۱۳۷۸ل کال کي په کوټه کي د صحاف نشراتي مؤسسي له لوري چاپ سوی دی.
۶- پښتني مېرمني: دا کتاب د افغانستان د ۱۱۸ تنو نومیالیو مېرمنو ګډه تذکره ده چي په ۱۳۲۳ل کال کي چاپ سوې ده، د کتاب ټول مخونه ۲۵۶ ته رسیږي، نوموړي کتاب په همدې کال د خوشحال خان ادبي جایزه هم وړې ده.
¬۷- ادبي فنون: دا کتاب د هغو درسونو مجموعه ده چي استاد ښپنوا د ۱۳۲۴-۱۳۲۳ ل کلونو په جریان کي د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کي تدریس کړي وه، په دې کتاب کي معاني، بدیع بیان، عروض، قافیه،خطابه او د لیکني اصول او اسلوب په ډېر ښه ډول سره څېړل سوي دي، کتاب په۱۳۲۶ل کي چاپ سوی او ټولټال ۱۰۶ مخونه لري. ۸- پښتونستان: دا کتاب په ۱۳۳۰ل کال کي خپور سوی، په دې کتاب کي د پښتونستان زاړه نومونه، جغرافیه، تاریخ، قبیلي، رجال او د پښتونستان د غورځنګ کارنامي په تفصیل سره لیکل سوي، کتاب ټولټال ۴۸۰ مخونه لري. ۹- لنډۍ (لومړۍ برخه ): دا کتاب په ۱۳۳۷ل کال کي په ښکلي صحافت او مصوّر ډول چاپ سوی، کتاب ۱۷۶ مخونه لري، په کتاب کي منتخبي لنډۍ د پارسي او انګریزي ژباړو سره یو ځای راغلی دي، چي انګریزي ترجمه یي ښاغلي محمدابراهیم شریفي او اردو ژباړه یي ښاغلي تاج الدین عاجز زاوه وال کړې ده، دا کتاب دوهم ځل په ۱۳۸۷ل کال په پېښور کي د دانش خپرندویه ټولني له خوا چاپ سوی دی. ۱۰- د زړه خواله: دا کتاب چي ۲۱ لیکونه پکښي راغلي استاد ښپنوا خپل خیالي ملګري ته لیکلي او په هغو کي یي د خپل ملګري سره د اجتماعي دردونو په اړه د زړه خواله کړي دي، دا کتاب لومړی وار په ۱۳۳۸ل کال کي په اصلاح ورځپانه کي په ټوک- ټوک د یوې لړۍ په ډول خپور سوی او په کتابي بڼه په ۱۳۴۵ل کال کي چاپ سو چي ټولټال۶۱ مخونه لري، نوموړي کتاب په ۱۳۴۰ ل کال کي د داستان لومړۍ جایزه هم وړې ده. دا کتاب د د وهم ځل لپاره په ۱۳۹۱ل کال کي د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا هم چاپ سوی دی. ۱۱- چند آهنګ پښتو: دا په پارسي ژبه لیکل سوې رساله ده چي د پښتو موسیقۍ د ۶۴ آهنګونو شرحه پکښي راغلي ده، چي په عصري او غربي ډول د موسیقۍ نوټونه هم ورسره راغلي دي، دا رساله لومړی ځل په ۱۳۲۵ل کال کي په کالنۍ کي خپره سوې ده، دغه رساله وروسته په کتابي بڼه په ۳۶ مخونو کي هم چاپ سوه، او دغه رساله د آریانا دایرة المعارف د دریم ټوک په پای کي هم چاپ سوې ده. ۱۲- د غنمو وږی: دا یوه تاریخي رساله ده چي د لوی امپراتور احمدشاه بابا(۱۱۶۱- ۱۱۸۶ه ق) د تاکني او جلوس د ورځي ټوله منظره یي په خورا ښه انداز سره ترسیم کړې ده، رساله ټول ۳۱ مخه لري او په ۱۳۲۵ل کال کي چاپ سوې ده او په همدې کال یي د مطبوعاتو جایزه هم وړې ده او د لسم ټولګي په پښتو قرآیت کي هم راغلي ده.
۱۳- خوشحال خان خټک څه وایي؟: په دې کتاب کي د خوشحال خان خټک (۱۰۲۲- ۱۱۰۰ه ق) ارمانونه، آرزوګاني او وصیتونه راټول سوي دي، دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۲۷ل کال کي د ممبیي په محمدي چاپخانه کي د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ښاغلي محمد حسن خان ساپي په زيار او هڅه چاپ سوی چي ۱۹۶ مخونه يي لرله او په پای کي يي د ممبيي د انجمن پښتون مشر مولانا تاج محمد خېل يو تقريظ هم و، د دغه کتاب ټولي چاپي نسخي په کراچي کي د پاکستاني حکومت له خوا تر نيوني وروسته ضبط سوې، دا کتاب وروسته دوهم وار په کابل کي په ۱۳۲۹ ل کال کي چاپ سو، د کتاب ټول مخونه ۱۵۸ دي او د خوشحال خټک دريمه جايزه يي هم وړي ده.۱۴- د پير محمد کاکړ ديوان: دغه ديوان چي په ۱۳۲۵ ل کال کي چاپ سوی، تدوين، تصحيح او مقابله يي ښاغلی ښېنوا تر سره کړي دي او دوهم ځل په ۲۰۰۴ع کال په کوټهکي د صحاف نشراتي مؤسسي له خوا هم چاپ سو، چي ښاغلي استاد حبيب الله رفيع علمي سريزه هم پر کښلي ده، او دغه ديوان دوهم ځل په ۱۳۸۲ل کال کي په کوټه کي د صحاف نشراتي مؤسسي له لوري چاپ سو...

۱۵- د کاظم خان ديوان: دغه ديوان په ۱۳۳۳ل کال چاپ تدوين، تصحيح او مقابله يي هم فاضل استاد تر سره کړي دي او ټول مخونه ۲۲۱ دي.

۱۶- د رحمان بابا ديوان: دغه ديوان چي په ۱۳۲۸ل کال چاپ سوی تدوين، تصحيح او مقابله يي ښاغلي ښېنوا تر سره کړي دي او ښکلي خطاطي يي د افغانستان د وتلي خطاط اروابناد عزيزالدين وکيلي پوپلزي (۱۳۷۸ل کال مړ) په قلم ليکل سوې ده، چي ټولټال ۲۶۰ مخونه لري، او دوهم ځل په ۱۳۶۱ل کال کي هم چاپ سوی دی.

۱۷- ويښ زلميان: دا کتاب د هيواد د ځينو روشنفکره زلميانو او سياستوالو د اجتماعي افکارو ګډه ټولګه ده، چي د فاضل استاد په زيار او کوښښ راغونډه سوې او په ۱۳۲۶ل کال کي له چاپه راوتلي ده.

۱۸- د پښتو قرائت: دغه درسي کتاب د پوهني وزارت په غوښتنه استاد ښېنوا په ۱۳۳۹ ل کال کي کښلی او لومړی وار په ۱۳۴۴ ل کال کي د پوهني وزارت له خوا چاپ سو، نوموړی کتاب ۲۳۷ مخونه لري او په پای کي لغتنامه هم لري او دوهم ځل هم چاپ سوی دی.

۱۹- پښتو کيلي: د پښتو کيلي د دريم جلد دوهم ټوک چي د پښتو ژبي درسي کتاب دی په ۱۳۱۹ ل کال چاپ سوې، دغه راز د پښتو کيلي د څلورم جلد لومړی ټوک په ۱۳۲۰ ل کال کي چاپ سوی دی، او د دغي لړۍ د څلورم جلد دوهم ټوک يي په همدغه ۱۳۲۰ ل کال کي د پښتو ټولني له خوا هم چاپ سوی دی.

۲۰- پښتو د شاهانو په دربار کي: دا يوه رساله ده چي د هغو شاهانو پښتو پالنه ياده پکښي ياده سوې ده، چي دوی په خپلو دربارونو کي پښتو ليکوالو، شاعرانو او پوهانو ته ځای ورکړی و او په درنه سترګه يي ورته کتلي و او هغوی يي نور هم تشويق او هڅولي و، دا رساله د ۱۳۲۲ل کال په کالنۍ کي چاپ سوې ده.

۲۱- نظری به پښتونستان: دا په پارسي ژبه يوه رساله ده، چي د پښتونستان پر موضوع باندي اجمالي څېړنه پکښي سوې ده، دا رساله لومړی وار د ۱۳۲۹ل کال په کالنۍ او بيا په ځانګړي ډول هم چاپ سوې ده.

۲۲- خوشحال او پسرلی: دا يو کتابګوتی دی چي پکښي د خوشحال خان بابا پسرلني او رندانه شعرونه راغونډ سوي دي، او په ۱۳۳۷ل کال کي چاپ سوی دی،(خو ښاغلي مطيع الله روهيال "د ښېنوا کتابښود" کي دغه نېټه ۱۳۴۰ لمريز ياده کړې ده).

۲۳- افغانستان اليوم: دا اثر چي په عربي ژبه ليکل سوی او په ۱۳۴۲ل کال کي هغه مهال په قاهره کي چاپ سوی چي فاضل استاد ښېنوا په قاهره کي د افغانستان په سفارت کي مطبوعاتي مستشار و.

۲۴- اربعين حقيقة عن افغانستان: دا اثر هم په عربي ژبه په قاهره کي ليکل سوی او په ۱۳۳۴ل کال هم هلته چاپ سوی دی.

۲۵- آثار افغانستان: دا کتاب هم په قاهره په عربي ژبه ليکل سوی او په ۱۳۴۳ل کال په قاهره کي چاپ سوی دی، کتاب ټولټال۹۶ مخونه لري.

۲۶- هدياالعام الجديد: دا تقويم په ۱۳۴۵ل کال په قاهره کي د ښاغلي ښېنوا په زيار او هڅه چاپ سوی دی.

۲۷- المراة الافغانيه: دا کتاب په عربي ژبه ليکل سوی او په ۱۳۴۳ل کال په قاهره کي چاپ سوی، چي ټول چاپي مخونه يي ۱۳۴ ته رسيږي.

۲۸- ليدران امروزی پښتونستان: دا په پارسي ژبه ليکل سوې يوه وړه رساله ده چي په ۳۰ مخونو کي ليکل سوې ده، په رساله کي د هغه وخت د پښتونستان د ځينو مشرانو لنډي پيژندګلوی راغلي دي، دا رساله د ۱۳۳۱ل کال په کالنۍ کي او هم ځان ته د رسالي په ډول چاپ سوې ده.

۲۹- آريايي، پارسي، پښتو ويرني: دا يوه کوچنۍ رساله ده چي په ۱۳۶۲ل کال کي چاپ سوې ده، او د ۱۳۲۶-۲۵ل کلونو په کالنۍ کي هم راغلي ده، چي وروسته په ۱۳۶۲ل کال کي د ښاغلي حضرت محمد وياړ په تدوين او ترتيب په مستقل ډول چاپ سوې ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۳۰- د هوتکو په دوره کې پښتو: دا هم یوه وړه رساله ده چې د پښتو ژبې د ادب او پرمختګ په باب د هوتکو د مشرانو او شاعرانو توجه پکښې څېړل سوې ده، او په ۱۳۲۴ل کال په کابل مجله کې چاپ سوې ده.
۳۱- برګ سبز: په پارسي ژبه یوه طنزیه کوچینکه ټولګه ده، چې په ۱۳۲۶ ل کال کې یې د تالیف دوهمه درجه ورې ده، خو لا تر اوسه ناچاپ پرته ده.
۳۲- د چین سفرنامه: دا کتاب په ۱۳۳۶ل کال کې لیکل سوی، چې د دوو سوو مخونو په شاوخوا کې دی چې په دغه سفر کې شهید داود خان د خپل وخت صدراعظم هم ورسره مل و، نو ځکه یې په ۱۳۵۵ ل کال کې د چاپ تر مخه یو ځل هغه ته ورکړ، تر څو د هغه تر نظر هم تېر سي، خو هغه کتاب د شهید داود خان د شهادت سره سم تري تم سو.
۳۳- خوشحال خان از زبان خوشحال خان: دا یوه کوچنی رساله ده چې د خوشحال خان ختک په اړه تحلیلي لیکنه ده، په پارسي ژبه لیکل سوې او په۱۳۵۷-۱۳۵۶ل کلونو کې په انیس ورځپانه کې خپره سوې ده، د دې کتاب د څېړندوی محمدآصف احمدزي له خوا په پښتو ژباړل سوی او په ۱۳۹۱ل کال کې په ننګرهار کې د مومند خپرندویه ټولني له خوا چاپ سوی چي ټول مخونه یي ۱۰۱ دي.
۳۴- د افغانستان تاریخي پېښې: د دې اثر لومړی ټوک په ۱۳۵۴ل کال کې خپور سو او تر ۳۲۹ ه ق کاله پوري تاریخي پېښې پکښې راغونډې او څېړل سوې او ۱۸۸ مخونه لري، دوهم ټوک یې په ۱۳۵۷ل کال چاپ سوی او تر۴۰۲ ه ق پوري پېښي پکښې څېړل سوې دي، دا ټوک ۴۲۹ مخونه لري، او دا کتاب دوهم ځل په ۱۳۵۷ل کال کې هم چاپ سوی دی.
۳۵- خوږه ژبه پښتو: دا د پښتو صرف و نحوه ده چې په پارسي ژبه لیکل سوې ده، دغه کتاب یوه خطي نسخه ده چې د افغانستان په ملي آرشیف کې په ۱۲۶۸ مه ګڼه کې خوندي ده.
۳۶- د پښتو متلونو غورچاڼ: دا کتاب چې په ۱۳۵۸ل کال کې چاپ سوی دی،۴۵۰ پښتو متلونه د الفباء په ترتیب پکښې راغلي، چې ارواښاد وروسته په پارسي ژبه هم ژباړلی او د متلونو د استعمال ځایونه یې هم ښوولي دي، کتاب ۴۶۰ مخونه لري او وروسته د ښاغلي عبدالمجید شینواري له خوا په انګریزي ژبه هم ژباړل سوی دی.
۳۷- لنډۍ ( دوهمه برخه): دا کتاب چې په ۱۳۵۸ل کال کې چاپ سوی ټولټال ۱۲۲ مخونه لري، په دې مجموعه کې ۳۲۶ لنډۍ په پارسي ژباړل سوي او پر ۱۷ موضوعاتو وېشل سوي چي انګریزي ژباړه یې استاد سعدالدین شپون کړې ده.۳۸- د هسک پېغله: د ارواښاد استاد بېنوا د ځلورو پښتو شعرونو مجموعه ده، چې ښاغلي افضل ټکور راغونډه کړې او په ۱۳۶۷ل کال کې چاپ سوې ده، چې ټول مخونه یي۷۵ ته رسیږي.
۳۹- پارسي عربي قاموس: دغه پارسي عربي قاموس چې ارواښاد بېنوا د لیبیا په پلازمېنه طرابلیس کې سفیر و لیکلی خو لا تر اوسه نه دی چاپ سوی.
۴۰- عربي پښتو قاموس: په دې درانه اثر کې هم د پښتو ژبې ډېر لغاتونه راغونډ سوي دي چې دغه اثر هم تر اوسه نه دی چاپ سوی.
۴۱- د نړۍ په کتابخانو کې د مولانا جامي خطي آثار: د ارواښاد دغه اثر چې د مولانا عبدالرحمن جامي هغه اثار دي چې د نړۍ په کتابخانو کې خواره واره پراته ول، په ۱۳۵۸ل کال کې استاد بېنوا راغونډ کړي چې لا تر اوسه چاپ سوي نه دي، خو له ښه مرغه چې دا اثر د علامه رشاد بابا په شخصي کتابتون کې خوندي دی.۴۲- آشیانه عقاب: دا یوه تاریخي او حماسي ډرامه ده، چې په پارسي کښل سوې او په کابل ننداره کې تمثیل سوې ده.
۴۳- اشتباه: دا یوه ټولنیزه ډرامه ده چې په پارسي لیکل سوې ده او په کابل کې د هیواد د جشن لمانځني پر مهال وړاندي سوې ده ۴۴- کار بر اصل:
دا هم یوه ټولنیزه او تنقیدي ډرامه ده چې په پارسي کښل سوې او د کابل په پوهني ننداره کې وړاندي سوې ده، د دې ډرامي پښتو ژباړه په وږمه مجله کې خپره سوې ده.
۴۵ زوړ ګنهګار: دا هم یوه اجتماعي او تنقیدي ډرامه ده، چې په پښتو لیکل سوې ده او په کندهار پوهني ننداره کې وړاندي سوې ده، دا ډرامه په کابل او پښتون ږغ مجلو کې هم چاپ سوې ده.
۴۶- زرنګ: یو راډیویي ډرام دی چې په پارسي لیکل سوی او په راډیو افغانستان کې وړاندي سوی دی.
۴۷- حکومت بیدار است: دا هم یو راډیویي ډرام دی چې په پارسي لیکل سوی او په راډیو افغانستان کې تمثیل سوی دی، پښتو متن یې په پښتون ږغ مجله کې خپور سوی دی.
۴۸- طوق لعنت: یو تمثیلي ډرام دی چې په ۱۳۲۴ل کال کې یې د مطبوعاتو جایزه وړې ده.
۴۹- صدای وطن: داهم یو تمثیلي ډرام دی چې په ۱۳۲۶ ل کال کې یې د تالیف ځلورمه جایزه وړې ده.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

۵۰- د شیطانانو کابینه: دا هم یوه ډرامه ده.
۵۱- زوړ ګنهګار: دا د استاد بینوا د درو ډرامو ګډه مجموعه ده، چي د یوې ډرامي په نامه نومول سوې ده، نوموړی کتاب د سید جان ملال په زحمت راغونډ سوی او د ارواښاد بېنوا د څلرم تلین په مناسبت په ۱۳۶۷ل کال کي خپور سوی دی.
۵۲- د مېني مینه: د شعرونو ټولګه ده چي په ۱۹۴۱ع کال کي چاپ سوې ده.
۵۳- ښه شپه: د استاد بېنوا یو وړکی اثر دی، چي د نېکمرغه خاندان ژوند پکښي تمثیل سوی دی.
۵۴- پښتو قاموس: دا اثر چي غالباً په ۱۳۱۸-۱۳۱۷ل کلونو کښ به لیکل سوی وي، چي لا تر اوسه چاپ سوی نه دی او د پښتو دیارلس زره لغاتونه پکښي راغونډ سوي دي.
۵۵- کچکول: دا هم د استاد بېنوا د شعرونو او لیکونو ګډه ټولګه ده، چي غالباً دا به هم په ۱۳۱۸- ۱۳۱۷ ل کلونو کي لیکل سوې وي، چي دا هم تر اوسه ناچاپه پاتي ده.
۵۶- ادبي وړانګه: دا اثر هم تر اوسه نه دی چاپ سوی چي د څه شي په اړه به لیکل سوی وي.
۵۷- پرېشانه افکار (دوهمه برخه): دا کتاب د استاد بېنوا د خورو ورو لیکنو (دوهمه برخه) ده چي د ښاغلي مطیع الله روهیال په مټ راغونډه سوې او په کندهار کي د علامه رشاد خپرندویه ټولني له خوا چاپ سوې ده، ټول مخونه یې ۱۰۴ دي.
۵۸- د افغانستان تاریخي پیښي: دا اثر چي لومړی ټوک یې په ۱۳۵۴ ل کال کي چاپ سوی، ۱۸۸ مخونه لري او ۳۲۹ه ق کاله پوري تاریخي پیښي پکښي څېړل سوي دي، دوهم ټوک یې په ۱۳۷۵ل کال کي خپور سوی دی چي ټولټال ۴۲۹ مخونه لري او تر۶۰۲ه ق کال پوري تاریخي پېښي پکښي څېړل سوي دي.
۵۹- د پښتو ادبیاتو غورچاڼ: دا دروند اثر په درې ټوکه کي د (اریایي، پاړسي، پښتو ویرني) د سریزي په حواله استاد بېنوا د پښتو ادبیاتو غورچاڼ د ادبي مشاهیرو له شرح حال او کلام له نمونو سره په دریو ټوکونو کي د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز لپاره تهیه کړی دی، چي څه برخي یې د محقق ښاغلي محمد هاشم رحیمي له لوري په انګریزي ژبه ترجمه سوي او د پښتو په مجله کي په پرله پسي ډول چاپ سوي دي.
۶۰- د کلو رنځور: دا اثر که څه هم زموږ ځینو ادبي تیوریستانو(نظم) بللی دی، خو په اصل کي ډرامه ده، او د ډرامي یو لړ خواص او ځرکونه پکښي تر سترګو کیږي، دغه ډرامه د نظم په نامه ( د هسک پېغله) شعري ټولګه کي هم خپره سوې ده.
۶۱- د بېنوا شعري کلیات: دا اثر د ارواښاد بېنوا د ( پرېشانه افکار، د هسک پېغله، د غنمو وږی) او ځینو نورو متفرقه اشعارو څخه متشکل سوی دی، او په کوټه کي د هیواد نشراتي ټولني له خوا په ۱۳۷۸ل کال کی چاپ سوی چي ټول مخونه یې ۳۱۰ دي.
۶۲- د افغانستان تاریخي ریښي: دا د اروښاد بېنوا وروستی اثر دی چي څو برخي یې چاپ سوی، خو وروسته یې ژوند یاري ورسره ونه پالل او دغه اثر همداسي نیمګړی پاته سو.
۶۳- اصلي کار: دا یوه ډرامه ده چي د استاد بېنوا د ( اریایي، پاړسي، پښتو ویرني) نومي کتاب په سریزه کي د چي د امیر کروړ سوري د بین المللي سیمینار د علمي سکرتریت له خوا پر لیکل سوې، یادونه سوې ده، او غالباً د ۱۳۵۱ل کال د وږمې مجلې په ۲-۱ګڼه کي خپره سوې ده.
۶۴- پښتو روزنه: دا اثر په ۱۳۵۷ل کال کي د ښاغلي عبدالکریم پټنګ په اهتمام چاپ سوی چي د ښاغلی سرمحقق زلمي هیوادمل یوه مغتنمه سریزه هم پر کښل سوې ده، کتاب ټول ۴۰ مخه دی.
۶۵- د پښتو د پخواني او اوسنی ادب منتخبات: دا کتاب چي د پښتو ادب کلاسیک او معاصر ادب د منتخباتو ګډه مجموعه ده، په ۱۳۵۸ل کال کي لیکل سوې خو لا تر اوسه چاپ سوې نه ده.
دوهم د استاد بېنوا ژباړل سوي اثار:
۱- پښتوڅېړني: دا کتاب چي په فرانسوي ژبه مشهور ختیځ پوه ډاکټر جیمز دار (۱۸۴۹-۱۸۹۴ع) لیکلی چي دوې برخي لري: فونولوژي او مورفونولوژي، دا کتاب لومړی سید قاسم رښتیا په پاړسي ژباړلی او وروسته ارواښاد بېنوا او فاضل استاد پوهاند عبدالحي حبیبي په ګډه پښتو ته ژباړلی چي په ۱۳۲۶ ل کال چاپ سوی او ټولټال ۱۱۲ مخونه لري چي په دوه ټوکه کي چاپ سوی دی.
۲- پردېس: دا د علامه اقبال لاهوري (۱۳۵۸-۱۲۹۱ ه ق) د "مسافر" نومي منظوم کتاب منظومه پښتو ژباړه ده، چي په ۱۳۲۱ل کال په انیس ورځپاڼه کي د یوې پرله پسي لړی په ډول خپره سوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۳- پاچا خان: دا کتاب فارغ بخاري په اردو ژبه لیکلی، چي پکښي د خان عبدالغفار خان خدایي خدمتګار په ډېر تفصیل سره لیکل سوی دی او پښتو ژباړه یې ښاغلي بېنوا په ۱۳۳۸ ل کال کي تر سره کړې او وروسته په انیس ورځپاڼه کي د یوې لړۍ په ډول خپور سوی دی.
۴- ګیتآنجلي: دا کتاب د ستر فلیسوف، شاعر او ډراماتیک بنګالي لیکوال ' بندرانات ټاګور' شهکار دی چي په ۱۹۱۳ع کال کي یې د نوبل نړیواله جایزه هم وړې ده، دا کتاب اول وار په ۱۳۳۶ل کال چاپ سوی، دوهم وار په ۱۳۵۴ل کال کي چاپ سو او تر هغه وروسته د دریم وار لپاره په۱۳۸۳ل کال په کندهار کي د بېنوا فرهنګي ټولني له خوا خپور سو، د څلورم ځل لپاره په ۱۳۸۹ل کال کي په کابل کي د انډیا- افغان فونډېشن له خواهم چاپ سوی، پر کتاب د ارواښاد علامه رشاد بابا هر اړخیزه علمي سریزه هم کښل سوې ده.
۵- باغوان: د ټاګور د نثري اشعارو ټولګه ده چي په طلوع افغان کي په پرله پسي ډول چاپ سوې ده.
۶- لغة البشتو: د لوی استاد علامه پوهاند عبدالحي حبیبي د پښتو رسالي ژباړه ده او ارواښاد استاد بېنوا په عربي ژبه ژباړلې او په قاهره کي چاپ سوې ده، د رسالي بشپړ نوم په عربي کي باید داسي وي: ( نظرة عابرة الی الغة البشتو) پر دغه اثر د استاد بېنوا سریزه او د پوهاند علامه حبیبي لنډ ژوند لیک هم راغلی دی. دغه اثر ښاغلي سمندر غوریاني د (نظری به ادبیات پښتو) تر عنوان لاندي په پارسي هم ژباړلی دی او په ۱۳۵۷ل کال کي چاپ سوی دی.
۷- ماکډولینه: د انګریزي ژبي څخه د استاد په زیار ژباړل سوی ناول دی، چي پښتو بڼه یې په پرله پسي ډول په کابل مجله کي خپره سوې ده.
۸- آئینه سکندري: د "المصقلة المرضیة للمرآة الرضیه" پارسي ژباړه ده، د دغي ژباړي یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کي په ۴۷ تمه ګڼه کي خوندي ده، اصلي کتاب د یو امریکایي"یوسرفندیک" تالیف دی.
۹- د افغانستان لنډ تاریخ: د لوی استاد ارواښاد علامه حبیبي د " تاریخ مختصر افغانستان" د دواړو ټوکو پښتو ژباړه ده چي په ۱۳۵۶ل کال چاپ سوې ده، ټولټال ۴۴۳ مخونه لري. دا کتاب دوهم ځل په۱۳۹۱ل کال په کندهارکي د علامه رشاد خپرندویه ټولني له خوا هم چاپ سوی دی.
۱۰- شین کتاب: د معمرالقذافي د مشهور کتاب (شین) پښتو ژباړه ده چي په د ریو ټوکونو کي راغلي چي تر اوسه لا چاپ سوې نه ده.
فاضل استاد بېنوا دوې مېرمني درلودې چي د مشري مېرمني څخه یې د عبدالقدوس په نامه یو زوی درلودی، خو هغه د استاد بېنوا په ژوند کي لا وفات سوی و او کورنۍ یې په مشرقي کي پاته ده، ځیني خلک وایي چي د عبدالقدوس بېنوا زوی (عبدالله بېنوا) اوس هم په مشرقي کي اوسېږي( والله اعلم بالصواب).
استاد بېنوا له بلي (دوهمي) مېرمني څخه درې زامن او درې لوڼي درلودې، چي مشر زوی یې هیواد، منځوی یې خوشحال، او کشری یې پروېز نومیږي اوس ټول د امریکا په متحده ایالاتو کي اوسېږي. د استاد له درو لوڼو څخه یې مشره د ارواښاد محمدعظم ایازي زوی عبدالفتاح ایازي ته ناسته ده، منځوی یې د میر غلام محمد غبار زوی خلیل غبار ته ناسته ده او کشره یې لا تر اوسه په لوړو زده کړو بوخته ده.
استاد بېنوا د خپل(۷۱) کلن ژوند په وروستي کال د ۱۳۶۳ل کال د مرغومي په میاشت کي سخت ناروغ سو، همدا ناروغي یې دومره سخته او اوږده سوه چي بالاخره د ژوند له ستر نعمت څخه یې خلاص کړ. ارواښاد پوهاند رشاد بابا یې د مړیني دقیقه نېټه داسي لیکلې ده:
" ارواښاد استاد بېنوا د ۱۳۶۳ لمریز کال د مرغومي پر یوویشتمه (=۱۲ د دوهمي خور ۱۴۰۵= د جنوري ۱۱، ۱۹۸۵ع) د امریکا د متحده ایالاتو د نیو جرسي په ایالت کي مړ سوی او د نیوجرسي په غونډۍ کي خاورو ته سپارل سوی دی، زه ( رشاد) یې قبر ته ورغلی یم ( خدای دي یې وبخښي)، د ارواښاد بېنوا عمر په شمسي حساب ۷۱ او په قمري حساب ۷۳ کاله وو."
ارواښاد بېنوا په داسي وخت کی ومړ چي په ګران هیواد افغانستان کي د روس پلوه کمونیستي رژیم بربریت پوره اوج ته رسېدلي و، ارواښاد خپل وروستی شعر د وصیت په ډول لیکلی او د خپل هیواد پر بچیانو یې ږغ کړی چي هغه وخت به زما مړی خپل وطن ته دروړی چي د روس د ګوډاګي حکومت او روس پلوه تالی څټو واکمني پای ته رسېدلي او وطن مو ازاد سوی وي، نو هله به مړ بلبل (بېنوا) و خپل وطن ته دروړی او هډونه به یې په خپل ګران وطن کي ښخوی.
د بېنوا وصیت
افغانانو تر سر تېرو توریالیو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

قهرمانو! هیوادپالو! هوډیالیو
دا سرکښه توپانونه چي بیا اېل کړی
یاغي سوی فتني بیا په امن ښکېل کړی
چي مو واک د خپلي میني بیرته خپل سي
خپل مو کور، خپل مو وطن خپل مو بورجل سي
چي تېغ د استعمار له ملکه تول سي
خپل مو امر، خپل مو حکم، خپل مو بول سي
ستاسي خپلي ادیري خپلي دېري سي
د پردو د استعمار منګولي پرې سي
چي راتول پر خپل نغری بیا افغانان سي
افغانان د خپلي خاوري خاوندان سي
پر هارونه د وطن لړ څه ملهم سي
وران کارونه د وطن لړ سره سم سي
چي د روس د غارتګرو وطن خلاص سي
د ماسکو پر لوټمارانو مو بر لاس سي
چي د خرو لښکرو شوم قدم تر شا سي
بیرته دا کنډواله کړی وطن ستا سي
چي مو کور له ګندګیو ښخه پاک سي
د فنا د اور طمعه خس و خاشاک سي
دروند وطن د کي جي بي په سپو سپک نه وي
کشتمند نه وي، نورو نه وي، ببرک نه وي
چي مو کله هغه سر ځوړند په دار کړ
چي وطن یې د کرملین تر ګټو جار کړ
چي مو کله د غادرو مخان تور کړل
دا جګ سري مو ذلیل، رسوا، نسکور کړل
د ولي ناولی مېنه چي سپېره سي
په متیازو د اجمل ړیره خیشته سي
چي بیا بیرته مستقل افغانستان سي
کالخوایي د خپل وطن بیا د افغان سي
زما هډونه به دروړی و خپل وطن ته
مړ بلبل به رسوی وخپل ګلشن ته
ښخوی به ما په پاک افغانستان کي
د پروټو ننګیالیو په جهان کي
زما پر قبر به لیکی زلمیانو دا
دلته ښخ دی پردېس سوی بېنوا
۱ جدي ۱۳۶۳ ه ش


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ